که چېرته د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدونکی په دې پوهېدلی چې په دې سره څومره ګناهګارېږی، نو هغه به غوره ګڼلی وای چې څلوېښت (ورځې، میاشتې یا کلونه) په ځای ودرېږي، تر دې چې د هغه مخې ته تېر شي

له بسر بن سعید څخه روایت دی، چې زید بن خالد الجهني رضي الله عنه دی ابو جُهَيْمٍ رضي الله عنه ته ورولېږه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د لمونځ کوونکي مخې ته د تېرېدونکي په اړه پوښتنه وکړي؟ نو ابوجُهَيْمٍ وویل چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «که چېرته د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدونکی په دې پوهېدلی چې په دې سره څومره ګناهګارېږی، نو هغه به غوره ګڼلی وای چې څلوېښت (ورځې، میاشتې یا کلونه) په ځای ودرېږي، تر دې چې د هغه مخې ته تېر شي» أبو النضر ویلي: نه پوهېږم چې څلوېښت ورځې، میاشتې او که کلونه یې وویل؟

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د فرض یا نفل لمونځ کوونکي مخې ته دتېرېدو په اړه سخت خبرداری ورکړی او دا چې که څوک قصداً د لمونځ کوونکي مخې ته تېر شي چې څومره ګناهګارېږي، نو غوره به یې ګڼلی وای چې څلوېښت (ورځې، میاشتې او یا کلونه) ودرېږي، دا به ورته د تېرېدو پر ځای غوره وای. ابو النضر د حدیث راوي ویلي: "نه پوهېږم چې آیا: څلوېښت ورځې، یا میاشتې، یا کلونه یې یاد کړل.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/7191